

# د افغانستان په سوېل ختيځ کې د جګړې او سولې سيمه ييز لاملونه:
## د سولې لپاره د سيمه ييزې غونډې موندنې




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فریډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګډه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین، سعید پرتو او مارتا لِګراند، له خوا د فریډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څیړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکارۍ د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د جولای په ۸ مه، د سولې لپاره محلي غونډه په کابل کې جوړه شوه چې د افغانستان په پراخ سویل ختیځ زون کې پرتو پنځو ولایتونو: پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني او لوګر محلي چارواکو او د مدني ټولنې استازو په کې ګډون درلود او د هر ولایت نفوس، جغرافیې، اقتصادي او جګړې په اړه لنډه کتنه وړاندې کېږي. وروسته د غونډې شرحه وړاندې شوه. د لنډیز یا نچوړ په پای کې د بحثونو عمومي پایلي ځای پرځای شوي دي.

### شالید

پکتیا، پکتیکا، خوست او د غزني ځینې برخې د لویې پکتیا د تاریخي سیمې برخه ګڼل کېږي. دغه سیمه پیاوړې هویت او له دولت څخه د اداري خپلواکۍ تاریخچه لري چې د هېواد د نورو برخو په پرتله د دې قومي جوړښتونو او مکانیزمونو د قوی مقاومت دلیل دی (Gregg, 2009; Ruttig, 2009). په ۲۰۰۱ کال، لویه پکتیا یوه له هغو څو سیمو وه چې د طالبانو او القاعدې جنګیالي ترې د قومي شوراګانو له خوا د خلکو په وسیله وشړل شول نه د قوماندانانو یا جنګ سالارانو له خوا (Clarke, November 24, 2011).

په دې پنځو ولایتونو کې غوڅ اکثریت خلک کلیوالي دي او تر ټولو ډېر ښاري نفوس په غزني (غزني ولایت)، ګردېز (پکتیا) او په چټکۍ سره وده کوونکي ښار (خوست) پورې اړه لري. (۱ او ۲ شکلونه)

**۱ شکل: د نفوسو اټکل (2020)**

| ولایت | ټول نفوس | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| پکتیا | ٦١١,٩٥٢ | ٢٨,٣٠٤ | ٥٨٣,٦٤٨ |
| پکتیکا | ٧٧٥,٤٩٨ | ٥,٠٥٢ | ٧٧٠,٤٤٦ |
| خوست | ٦٣٦,٥٢٢ | ١٣,٤١٦ | ٦٢٣,١٠٦ |
| غزني | ١,٣٦٢,٥٠٤ | ٦٨,٩٩٣ | ١,٢٩٣,٥١١ |
| لوګر | ٤٣٤,٣٧٤ | ١١,٣٥٢ | ٤٢٣,٠٢٢ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (۲۰۲۱)

**۲ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**




د احصائیې او معلوماتو ملي اداري د معلومات په بنسټ (2021)

د پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو غوڅ اکثریت نفوس سني مذهبه مسلمان پښتانه جوړوي (له ۹۰ سلنو زیات) او ورسره څنګ کې هزاره او سادات شیعه لږکي او دغه راز هندوان او سېکان په ګردېز (پکتیا)، ارګون (پکتیکا) او خوست ښارونو کې اوسېږي. غزني تر نورو متفاوتې مذهبي، قومي او ژبنۍ ځانګړتیاوې لري او داسې یې رسمولای شو: پښتون سني مذهب اکثریت په ختیځه برخه، هزاره او شیعه ګان په لوېدیځو او شمالي لوړو ساحو کې او د تاجیکانو، هزاره ګانو او پښتنو ګډ ترکیب د ولایت په مرکز او مرکزي ولسوالیو کې اوسېږي. په لوګر کې پښتو ژبي اوسېدونکي د اټکل له مخې د ولایت د ټول نفوس ۶۰ سلنه او دري ژبي (تاجیکان او هزاره لږکي) ۴۰ سلنه تشکیلوي (UNFPA, 2005).

په اصلي معیشتونو کې کرنه، مالداري، سوداګري او په ښاري مرکزونو کې خدمتونه شامل دي. اکثریت کورنۍ په څو کارونو بوختې دي (کرنه، مزدوري، دوکان داري، موټرواني (ټرانسپورټ) او خدمتونه). له دې سره، کلیوالي معیشتونه د نا ځاپي سېلابونو پر وړاندې زیانمن دي او په ځانګړې توګه غرنیو سیمو کې پاکو اوبو ته لاسرسی لږ دی. په پکتیا، خوست او پکتیکا کې (له پاکستان سره ګډه پوله لرونکي ولایتونه)، د خلکو اقتصاد د ګډې پولې پر سر له سوداګرۍ سره تړلی او پاکستانۍ (کلداره) د خلکو ترمنځ کارېدونکې پولي واحد دی. په غزني کې د بېوزلۍ کچه تر ټولو لوړه یانې ۵۸ سلنه اټکل شوې او دا د ملي اوسط له ۵۲ سلنو هم لوړه کچه ده؛ خوست د ۵۱.۶ سلنو، پکتیا د ۴۸.۳ سلنو، لوګر د ۳۰.۴ سلنو او پکتیکا د ۲۹.۷ سلنو بېوزلۍ په لرلو سره وروسته ځایونه لري (UNDP, 2020).

سره له دې چې د جګړې بېلګې په دغو ولایتونو کې توپیر لري، مګر ځینې ګډ ټکي هم لري لکه د دولت کمزورتیا، له ښاري مرکزونو څخه د باندې د ملي امنیتي ځواکونو محدود شتون او د مخالفو وسله والو ثابت شتون (UNSC, June 2019).

په محلي کچه، د جګړې لاملونه د ځمکې او اوبو پر سر د ټولنو ترمنځ د شدیدې سیالۍ له امله، پیاوړي کېږي. د لرګیو مالکیت د خوست او پکتیا په غرنیو ځنګلي سیمو کې د محلي جګړو یو له اصلي لاملونو څخه ګڼل کېږي.

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې، د آیساف له نړیوالو ځواکونو، دولتي ځواکونو، د خوست د ساتنې ځواکونو او په پکتیکا کې له شاهین ځواکونو سره د مخالفو وسله والو ډلو ځمکنۍ جګړې سبب شوې چې په سیمه کې نا امني ډېره شي. دغه لړۍ د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ نیمایي کې د ټول زون په کچه لا چټکه شوې. د خراسان ولایت اسلامي دولت جنګیالیو په خوست او غزني کې ملکي وګړي په نښه کړي او دغه راز په خوست او پکتیا کې د القاعده شبکې د شتون راپور ورکړل شوی (UNAMA, 2021; OCHA, 2021). په سرحدي ولایتونو کې د وسله والو مخالفینو او د مخدره موادو د قاچاقبرو او جنایي ډلو ترمنځ د ټینګو اړیکو په اړه هم روایتونه شته دي (UNSC, June 2019).

**پکتیا** د شمال له پلوه په لوګر، له لوېدیځه په غزني، له سوېله په پکتیکا او له ختیځه په خوست پورې تړلې ده. دغه ولایت په ختیځ کې د خیبر پښتونخوا له کورمې ایجنسۍ سره ۱۰۰ کیلومتره ګډه پوله لري.

کابل – ګردېز لویه لار له لوګر څخه تېرېږي او په تېرې کوتل کې کابل د پکتیا له مرکز ګردېز ښار سره نښلوي او له هغه ځایه د ګردېز – خوست لویه لاره له پاکستان سره پر ګډه پوله پروت غلام خان بندر پورې رسېږي. دغه دواړه لویې لارې پر دولتي کارکوونکو، نا دولتي موسسو او افغان ملي امنیتي ځواکونو د طالبانو د هدفي بریدونو کوربه دي (Hamid, July 7, 2020). دویم مسیر ګردېز ښار په ختیځ کې له ډنډ پټان او په لوېدیځ کې د پکتیکا له مرکز شرڼې سره تړي.

د پکتیا ولایت لویه برخه په غرونو پوښلې او ډېری وګړي یې د ولایت په نیمه لوېدیځ کې پروت ګردېز ښار کې سره راټول دي. د مالداری ترڅنګ نوبتي کرنه او له غرنیو ځنګلونو څخه د لرګیو راټولول د دې ولایت د کلیوالي اوسېدونکو د ژوند اصلي سرچینې دي څو د ګردېز تجارتي پوټنشیل چې د کابل، غزني او د پاکستان شمال لوېدیځې برخې سره د تاریخي نښلوونکو لارو په تقاطع

کې پروت دی، تر ډېره د لرګيو په سوداګرۍ پورې تړلی پاتې دی (IRC, 2021).

د پخوانۍ لويې پکتيا د نورو برخو په څېر، د دولت ضد احساسات له ډېرې پخوا راهيسې په پکتيا کې پياوړي دي او د اداري کمزورتيا، د دولتي ځواکونو له خوا له زور څخه د ناوړه ګټنې د پرله پسې قضيو او په عمومي توګه د بيا رغونې او پراختيايي فعاليتونو د نه شتون له امله يې شدت موندلی (Ruttig, 2009; Ali et al., September 4, 2019).

په دې ولايت کې د طالبانو، القاعدې او د خراسان ولايت د اسلامي دولت په ګډون د وسله والو بېلابېلې کړۍ فعالې دي. د بشري حقونو پر ملاتړو او مدني ټولنې پر فعالانو بريدونه، د نا دولتي موسسو د پرسونل لپاره ګواښونه او په زور سره د روغتيايي مرکزونو تړل هغه ټکي دي چې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې يې راپور ورکړل شوی (UNSG, December 19, 2020; UNAMA, 2021). د ډنډ پټان سرحدي ساحه چې کابل ته تر ټولو نيږدې ټکی ګڼل کېږي، تل د طالبانو د بريدونو محراق و او يو له هغو اوو بندرونو څخه دی چې د ۲۰۲۱ کال په جولای کې د طالبانو لاس ته ولوېد (Tolonews, April 16, 2018; ANI, July 14, 2021).

**خوست** له سوېل لوېديځ پلوه په پکتيکا پورې تړلی او له شمال، ختيځ او سوېل پلوه له پاکستان سره ۱۳۵ کيلومتره ګډه پوله لري. د ولايت نيمه لوېديځه برخه په غرنيو ځنګلونو پټه ده، لرګي او جنغوزي يې د محلي ټولنو له خوا راټولېږي. د خوست په ختيځ کې د کورمې سيند په اوږدو کې د کرنې وړ پراخې ځمکې شته دي، دغه سيند له ختيځ څخه سرچينه اخلي او په اباسين يا اندوس ورګډېږي. يوه لويه لاره هم شته چې د خوست ولايت مرکز (متون) په لوېديځ کې له ګردېز او په ختيځ کې له پاکستان سره تړي.

خوست ښار د پنجاب او کراچۍ له صنعتي سيمو سره د ټينګو تجارتي اړيکو لرلو له امله، د پخوانۍ لويې پکتيا اقتصادي مرکز ګڼل کېږي (TLO, 2008). دغه ښار د تېرو دوو لسيزو پرمهال له زيربنايي او تأسيساتي پلوه بهرنۍ پانګونه يې جذب کړې، لکه په ۲۰۰۳ کال د عربي متحده اماراتو په ملاتړ د شيخ زايد پوهنتون جوړېدل.

له دې سره، پاکستان ته د توکو قاچاق د دې ولايت پر مشروع اقتصادي فعاليتونو سيوری خپور کړی. په دغو توکو کې توليدي جنسونه، لرګي، نښه يي توکي او کروميت ډېرې شامل دي چې په غير قانوني بڼه استخراجيږي (Shah, March 19, 2014).

د ښاري کېدلو او د رغونې وړ ځمکې باندې د پانګونې وده - چې په سوېل ختيځ زون کې لوړه بيه لري - د ولايت په مرکز او ور څېرمه سيمو کې د محلي جګړو يوه ستره سرچينه ګڼل کېږي. په ۲۰۱۴ کال اټکلاً ۲۸۳.۰۰۰ تنه په شمالي وزيرستان کې د نظامي عملياتو له امله خوست او پکتيا ته راکډه شول. د خوست ښار په شاوخوا کې د کډوالو مېشتول د نورو کوچنيو ټولنو د بيا ځل مېشتولو او اوږدمهاله بېځايه کېدلو ترڅنګ، هغه عوامل دي چې پر ځمکې او عامه خدمتونو د زياتېدونکي فشار راتلو سبب کېږي (UNHCR, December 5, 2019; UNAMA, 2021).

پر ځنګلونو پوښلو غرنيو سيمو کې، آبي سرچينو، ځمکې او لرګيو ته د لاسرسي پر سر سيالي په پرله پسې توګه سبب شوې چې د محلي ټولنو ترمنځ جګړې زور واخلي. تر شخړې لاندې ځمکو پر سر د ودانيو جوړول تر ډېره د خلکو له مخالفت سره مخ شوي او کولای شي د ټولنو ترمنځ پخواني جګړې يو ځل بيا تازه کړي. د ځمکو د اسنادو نه شتوالی او د مالکيت له حقوقو څخه د عرفي او شرعي په نوم د حکومتي بنسټونو مغاير تعبيرونه، دغه محلي شخړې لا پېچلې کوي.

خوست ولايت چې له پاکستان څخه د وسله والو شبکو د راتګ په لار کې پروت دی، له تاريخي پلوه د دولت د مخالفو وسله والو ډلو پياوړی مرکز پاتې شوی او په کې پر دولتي چاروالو او کارکوونکو بريدونه شوي او هم د ملکي وګړو ترمنځ د وېرې او ډار اچونې تخنيکونه کارول شوي. پر امنيتي ځواکونو د خلکو باور د ولس په ساتلو کې د دغو ځواکونو د پاتې راتګ، د محلي حکومتوالۍ له مکانيزمونو سره د هغوی د نا بلدتيا او د دولتي ځواکونو

یا دولت پورې تړلو وسله والو ډلو ـ لکه د خوست ساتونکی ځواک – له خوا له حقونو د سرغړونې له امله، له منځه تللی.

په ۲۰۲۰ کال، خوست ولایت د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ۴۳ سلنه ملکي مرګ ژوبلې ډېرېدو کوربه و. د دغې مرګ ژوبلې لامل هوایي بمباری، هدفي بریدونه او د دولتي او دولت ضد ځواکونو پېچلي عملیات ګڼل شوي دي(UNAMA, 2021) . تاوتریخوالي د خلکو د بېځایه کېدو سبب شوی او لومړنیو خدمتونو ته یې د هغوی لاسرسي تر اغېز لاندې راوستی (MSF, 2021).

**پکتیکا** له لوېدیځ پلوه په غزني او زابل ولایتونو، له شمال ختیځ پلوه په خوست، له سوېل او ختیځ پلوه په پاکستان پورې تړلی ولایت دی. ۱۱ نمبر لویه لاره د پکتیکا ولایت مرکز (شرنه) له شمال لوېدیځ پلوه په غزني پورې تړي او د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ پر خوا غځېږي.

د دغو څلور ګونو ولایتونو له منځه چې پخوا د لویې پکتیا یوه برخه وو، پکتیکا ولایت تر ټولو کمزوری اقتصاد لري. دغه ولایت تر ډېره بې اوبو او شړ ځایونو دی او ځنګلونه یې د منځه تګ له شدید خطر سره مخ دي.

پکتیکا په خپلو سرحدي سیمو کې د افغان امنیتي ځواکونو، وسله والو طالبانو، القاعده شبکې او پاکستاني ملېشو ترمنځ د جګړو ډګر دی (UNSC, June 2019; Khoshai, November, 2019). د ولایت له مرکز شرنې ښار څخه د باندې اکثریت ساحې نا امنه دي. دولتي کارکوونکي او سرتېري تل ولسوالیو ته پر غځېدلو لارو له هدفي بریدونو او کمینونو سره مخامخ کېږي.

**غزني** له شمال پلوه وردګو او بامیانو ولایتونو، له ختیځ پلوه لوګر، پکتیا او پکتیکا او له لوېدیځ پلوه هم په دایکنډي، ارزګان او زابل ولایتونو پورې تړلی دی. دغه ولایت چې د کابل – کندهار لویې لارې پر سر پروت دی، ستراتیژیک موقعیت لري او د هېواد سوېل لوېدیځ او سوېل ختیځ زونونه له یوبل سره تړي. په غزني کې یوه بله لویه لار هم شته چې د ولایت مرکز له پکتیکا سره تړي؛ که څه هم دغه لار په پرله پسې توګه د طالبانو له خوا تړل کېږي او د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې یې یوه برخه د طالبانو له خوا ویجاړه شوه (Alim, November 9, 2020; Maftoon, November 3, 2019).

کلیوالي خلک چې د دې ولایت د نفوس اکثریت جوړوي، د کرنې له لارې ژوند چلوي. د غزني کرنیزې ځمکې د ولایت په سوېل او ختیځو برخو کې تمرکز لري او د غزني سیند او سردې بندې له اوبو څخه د کرنې لپاره ګټه اخیستل کېږي. شپونې یا چوپاني او للمي کرنه د دې ولایت په شمال لوېدیځو څنډو کې مېشتو وګړو د عاید اصلي سرچینې ګڼل کېږي.

د سرو زرو، مسو، لیتیمو او اونیکس ډېرو کانونه په دې ولایت کې پېژندل شوي خو لویه برخه یې په غیر قانوني بڼه سپړل کېږي (UNDP 2020). همدارنګه دغه ولایت کابل ته د سوېل له پلوه د مخدره موادو د قاچاق د لوی مسیر دواړو غاړو ته پروت دی.

غزني ښار چې د ولایت مرکز هم دی، د افغانستان یوه مهمه فرهنګي او تاریخي ساحه ده او په خپله لمنه کې یې بېلابېلو مهمو اسلامي او له اسلام څخه وړاندې آثارو ته ځای ورکړی. ماتېدونکي امنیتي وضعیت دغه ښار ته لاسرسي چې په ۲۰۱۳ کال په آسیا کې د اسلام فرهنګي پلازمېنه وګڼل شو، محدود کړی او همدا مسئله سبب شوې چې د کابل – کندهار د لویې لارې پر سر د دغه ښار سوداګریز او صنعتي مرکزیت کمزوری شي (Kennedy, May 24, 2011; UNAMA, April 13, 2013).

د ۲۰۱۸ کال په اګسټ کې پر غزني ښار د طالبانو برید د دې ښار د مهمو ارګانونو زیربناوې او مارکېټونه ویجاړ کړل او سلګونه کسان یې ووژل (Rahman, December 16, 2018). دغه برید د ټول ولایت په کچه له یوه پراخ برید سره هممهاله وشو او په پایله کې یې طالبانو پنځه ولسوالۍ ونیولې، له هغه ځایه یې د نورو ولسوالیو په کنټرولولو لاس پورې کړ او په دې سره پر غزني د دولت کنټرول د پام وړ کم شو.

غزني له دې برید وروسته د دولتي ځواکونو او وسله والو ډلو ترمنځ د پرله پسې جګړو کوربه شو. د څورونې او

تاوتریخوالي پېښو راپور هم د دولتي ځواکونو او هم د دولت ضد وسله والو ډلو له خوا ورکړل شوی او دغه راز د طالبانو له خوا د څو تنو خبریالانو د هدفي وژنو او د دولت مخالفو ملېشو له خوا د ملکي وګړو د ځورونې او وژلو روایتونه هم شتون لري (HRW, 2019; HRW, 2021).

په جبري توګه د ښوونځیو له تړل کېدو سره، زرګونه زده کوونکي له لوست او زده کړو بې برخې شوي (SCA, June 10, 2021). په ۲۰۲۰ کال، غزني یو له هغو ۷ ولایتونو و چې په کې تر ټولو ډېرو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه (UNAMA, 2021).

د ۲۰۲۱ کال د جون په ۲۹ مه، طالبانو یو ځل بیا د ولایت پر مرکز برید وکړ (Nikzad, July 12, 2021). د دې لنډیز لیکلو پرمهال، غزني ښار لاهم د طالبانو په کلابندۍ کې دی. د ولایت درې ختیځې ولسوالۍ د جګړو او سیالیو په درشل کې دي او پاتې نورې د طالبانو تر واک لاندې دي.

**لوګر** د کابل ښار په سویلي دروازه کې پروت دی. دغه ولایت په لودیځ کې له وردګو، په سویل کې له پکتیا او غزني سره نښتی او دغه راز له پاکستان سره هم لنډه ګډه پوله لري.

د ولایت اکثریت وګړي د لوګر په هغو درو کې ژوند کوي چې د لوګر سیند له خوا خړوبیږي، که څه هم دغه ولایت د وچکالۍ او له آبي سرچینو څخه له حده ډېرې ګټنې تر اغېز لاندې دی. د ولایت په عایداتي سرچینو کې کرنه، مالداري او سوداګري شامل دي. د مسو او کرومیت کانونو غیر قانوني کیندل د محلي ټولنو لپاره د عاید اضافي سرچینه او دغه راز د ټولنو ترمنځ د جګړو سرچینه هم ده. د چرسو تولید او قاچاق په محلي کچه د جګړې پر تحریک تر ټولو ډېر اغېز لري (Ruttig and Sabawoon, July 18, 2020).

د افغان امنیتي ځواکونو او وسله والو طالبانو ترمنځ د ځمکنیو جګړو له امله د نا امنیو اوږدېدو، د تېرو څو کالو په اوږدو کې د ولایت پر خلکو ناوړه اغېزې کړې چې په کې بنسټیزو خدمتونو ته د لاسرسي کمېدل او د جګړې د ښکېلو غاړو له خوا د ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړول شامل دي. د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې، د لوګر مرکز (پل علم) د یوه ځان وژونکي برید کوربه و چې له امله یې ۸۱ تنه ملکي وګړي مړه او ژوبل شول. کابل ته د اصلي لارې لنډمهاله بندېدل، د دولتي چارواکو او د نا دولتي موسسو د کارکوونکو د برمته نیولو راپورونه هم ورکړل شوي. د ۲۰۲۱ کال د جولای تر نیمایي پورې، د لوګر هېڅ یوه ولسوالۍ د دولت تر بشپړ کنټرول لاندې نه وه او نیږدې نیمایي ولایت د طالبانو په لاس کې و (Maqsood, August 13, 2018; Ruttig and Sabawoon, July 18, 2020, UNAMA 2021; UNSC 2021).

### د سویل ختیځ زون د سولې غونډه: لنډه کتنه

د سویل ختیځ زون د سولې غونډه چې په پیل کې ټاکل شوې وه خوست کې جوړه شي، د امنیتي اندېښنو، تدارکاتي خنډونو او د کوویډ-۱۹ د محدودیتونو له امله، د ۲۰۲۱ کال د جولای په ۸ مه په کابل کې جوړه شوه. په دې غونډه کې ۲۷ تنو ګډون درلود: ۶ ښځې او ۲۱ نارینه. په ګډونوالو کې د مدني ټولنې فعالان، دیني علما، محلي مخور، دولتي چارواکي او د ځوانانو استازي شامل وو.

په غونډه کې ګډونوالو له یو بل سره د بحث ترڅنګ، په محلي کچه د جګړې اساسي عوامل په ګوته کړل. وروسته دغه عوامل پنالیستانو ته وړاندې شول ترڅو د محلي نوښتونو له لارې یې د هوارولو لپاره حل لارې وړاندې کړي.

د سویل ختیځ زون په غونډه کې، پنځو د پنل بحث غړو د جګړې د عواملو په اړه د ګډونوالو لیدلورو ته ځوابونه ورکړل. د پنل بحث په غړو کې دوې ښځې او درې نارینه شامل وو: د مدني ټولنې یو استازی له پکتیا څخه، د ځوانانو یو استازی له پکتیکا څخه، د خوست د والي له دفتر څخه یو استازی، د لوګر ولایت د سولې جرګې یو تن غړی او د غزني د ولایتي شورا یو تن غړی.



FES, MADPO, APPRO ©

د محلي غونډو بله برخه، د ګډونوالو ترمنځ آزاد بحث، د سولې او د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د بالقوه توافق په اړه د هغوی د توقعاتو بیان و. د سولې اړوند تمې او توقعات او د محلي جګړو هغه عوامل چې د خوست په غونډه کې ګډونوالو بیان کړل، په لاندې ډول دي:

**د سولې په اړه د ګډونوالو تمې**

ګډونوالو د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د سولې تړون د بالقوه پایلو په اړه مختلف لیدلوري وړاندې کړي. اکثریت په دې اند وو چې که د سولې تړون د تاوتریخوالي د پام وړ کمېدو سبب شي، کولای شو لنډمهاله او منځمهاله مثبتې پایلې یې په دریو کټه ګوریو کې ډلبندي کړو:

له اقتصادي پلوه کولای شو داسې فرض کړو چې سوله د ټرانسپورټي لارو د امنیت او د ښاري مرکزونو ترمنځ د راکړه ورکړې ښه کېدو سبب کېږي. که داسې وشي، په سیمه کې به د پانګونې انګیزه لا ډېره او د وزګارتیا لوړه کچه ښایي ټیټه شي. بل پلو، د جګړې کمېدل هم په خپل وار کولای شي د امنیتي سکټور د لګښتونو کمېدو لامل شي او پرخای یې ډېره بودیجه د زیربناوو او خدمتونو برخې ته ورکړل شي.

همدارنګه تمه کېږي هغه نوی دولت د فساد پر ضد جدي غبرګون وښيي چې د خبرو اترو په پایله کې منځ ته راځي او هم د سرچینو عادلانه وېش تضمین کړي. د نښه یي توکو د تولید او د هېواد له پولو څخه د باندې د تولیدي توکو قاچاق په څېر غیر قانوني اقتصادي فعالیتونه هم د قانون د جدي پلي کېدو په پایله کې کمېدای شي.

دویم، د سولې هوکړې ته په رسېدو سره به په ملي کچه سیاسي اړیکې لړ کړکېچنه ښه ولري او د واک د وېش له لارې به تنظیمي او قومي جګړې را کمې شي. له دې سره، یو شمېر ګډونوالو په دې اړه شک درلود چې د ایډیالوژیکي لیدلورو لرونکي ښکېلې غاړې به وکولای شي د حکومت د بڼې په اړه توافق ته ورسېږي؛ دوی وېره لرله هسې نه چې ایډیالوژیکي جګړې لا شدت پیدا کړي.

دریم، د ګډونوالو له څلورو ګروپونو څخه دریو هغو وویل چې دوی ګومان کوي زده کړو ته به لاسرسی ښه شي. د دې ښه والي لامل له سولې وروسته هم په لرې پرتو سیمو کې د تدریسي پستونو لپاره د امنیتي وضعیت ښه کېدل او هم د پوهنې په نظام کې د فساد کمېدل وګڼل شو.

د افغانستان د نړیوالو اړیکو د راتلونکې په اړه وړاندوینو د ګډونوالو ترمنځ بحثونه را وپارول. یو شمېر ګډونوالو وړاندوینه کوله چې له سولې وروسته دولت کولای شي له تمویلوونکو دولتونو او ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان په اوسنیو اړیکو کې حد اقل بدلونونه راولي. خو نورو وېره لرله چې هسې نه چې نوی دولت د نړیوالو تعهداتو او ډیموکراتیکو بنسټونو په اړه خپلې ژمنې رعایت نه کړي، له نړیوالې ټولنې سره اړیکه وشلوي او په پایله کې یې له افغانستان سره د کېدونکو مرستو کچه د پام وړ کمه شي. همدارنګه، ځینو ګډونوالو دا وېره هم لرله چې هسې نه د افغانستان په کورنیو چارو کې د ګاونډیانو لاسوهنه نوره هم ډېره شي.

د جګړې او تاوتریخوالي د پای ته رسېدو په اړه له مثبتو وړاندوینو سربېره، ګڼو ګډونوالو د هغو بالقوه ویجاړوونکو اغېزو په اړه وېره لرله چې د نوي دولت تشکیلېدل یې کولای شي لړترلړه د طالبانو ترکنټرول لاندې سیمو کې د خلکو پر ټولنیزو، مدني او سیاسي حقونو ولري.

د مدني ټولنې غړیو د ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ کال پورې د طالبانو د واکمنۍ په یادولو سره په دې اړه اندېښنه وښوده چې کاري بازار ته د ښځو پر لاسرسي او تحرک د بنډیزونو لګول او دغه راز له قضایي منصبونو او پستونو څخه د

هغوی لرې کول شایي په عمومي حوزه کې د ښځو ګډون کم کړي. همدارنګه، ګډونوالو وړاندوینه وکړه چې رسنۍ شایي تر سخت کنټرول لاندې ونیول شي او د بیان آزادي له خطر سره مخ شي.

یو شمېر ګډونوالو د نوي حکومت په چوکاټ کې د مدني ټولنې د رول په اړه هم اندېښنه وښوده او څو تنه خک د جمهوري او ډیموکراتیک حکومت د ډول ساتلو ته هیله مَن وو.

**د جګړې سیمه ییزعوامل**

د جګړې هغه څلور بنسټیز عوامل په لاندې ډول دي چې د خوست غونډې ګډونوالو ورته اشاره کړې:

- کمزوری اقتصاد
- منظم یا تنظیم شوي جرمونه
- د سرچینو پر سر جګړې
- د وسلو وېش

د هر عامل هغه مهم اړخونه په لاندې برخو کې تر بحث لاندې نیول کېږي چې ګډونوالو وړاندې کړل:



FES, MADPO, APPRO ©

**لومړی ستونزه: کمزوری اقتصاد**

ګډونوالو یادونه وکړه چې پراخې بېوزلۍ او بې کارۍ د جګړې اور بل کړی او د کمیابه سرچینو د کنټرول پر سر سیالیو په خپل وار د شخړو لمنه پراخه کړې ده. له بلې خوا، د عایداتي سرچینو نه شتون هم سبب شوی چې ځوانان له وسله والو ځواکونو ـ هم دولتي او هم د دولت مخالفو ځواکونو – سره یوځای شي.

یو د پنل بحث غړی د بېوزلۍ او خوراکي خوندیتوب د نه شتون په اړه وایي:

*اصلي ستونزه دا ده چې خلک وږي، وزګاره او د زده کړو له نعمت څخه بې برخې دي. ناپوهي سیوری غوړولی او زه په دې اند یم چې د جګړو او تاوتریخوالي اصلي لامل بېوزلي ده ـ ۱ شمېره نارینه پنالیست، د لوګر د سولې جرګې غړی*

د ګروپ غړیو دولت ته د خلکو لپاره د ښه ژوند چمتو کولو د اصلي فکتور په سترګه کتل او ټینګار یې کاوه چې د کرنې او کانونو په زېربناوو او سترو ټولګټو پروژو کې عامه پانګونه د کلیوالي ټولنو د پراختیا لپاره اړین توکي دي. د مناسبو کاري شرایطو او د یوه ثابت اقتصادي چاپېریال په رامنځ ته کولو کې د دولت له ناکامۍ نا هیلي څرګنده شوه او دا په خپل وار د خلکو پر وړاندې د دولت د مشروعیت بایللو دلیل ګڼل کېږي.

د ځايي چارواکو فاسدو غړو لخوا د عامه پانګونو څخه ترلاسه شویو عوایدو چورول یا حیف او میل کول، د دولت ضد احساسات لا پیاوړي کوي. ګډونوالو تشریح کړه چې خپل ګمارنه، د پستونو او منصبونو د نیولو لپاره د بډو یا رشوت کارول، د عامه پروژو د پلان او پلي کولو لړۍ پخه کړې او سرچینو ته یې د عادلانه لاسرسي مخه نیولې ده. د دوی په اند، له چارواکو سره تر ډېره د خپلو جیبونو ډکولو غم وي نه خلکو ته د ګټه رسولو.

همدارنګه وویل شول چې فساد ملکي خدمتونو سیستم ته د مسلکي کسانو د ننوتلو مخه نیولې او سبب کېږي چې نور کسان د مشروع فعالیتونو له لارې د معاش له لاس ته راوړلو زړه توري شي. د جګړې او بېوزلۍ له کړۍ څخه وتل دېته اړتیا لري چې د ملي دولت او محلي حکومت اداري له فساد سره د مبارزې لپاره قوي او ټینګ عزم ولري.

دولتي اداري باید له محلي اقتصاد سره د مرستې په لاره کې له اقتصادي سکتور څخه د هدفي ملاتړ له لارې، لاس په کار شي. په دې ملاتړ کې باید د کوچنیو متشبثانو روزنه، د مدیریت د ښه کولو لپاره نوښتونه، په کلیوالو سیمو کې آبي سرچینو ته لاسرسی او له ثابتو اقتصادي فعالیتونو

څخه ملاتړ شامل وي. د کانونو د استخراج او ځايي ټولنو لپاره د کار موندنې په برخو کې دولتي پانګونه هم يو اړين امر دی او يو شمېر ګډونوالو خواشيني ښودلې چې د کانونو غير قانوني سپړل او د کاني موادو قاچاق د ټولنو ترمنځ د جګړې د پېښېدو سبب شوی.

د ګروپ غړيو د دې موضوع په اړه ناهيلي وښوده چې د تېرو دوو لسيزو پرمهال، دولت او نړيوال تمويلوونکي بريالي نه شول چې د کليوالي اقتصاد په برخه کې تلپاتې پانګونه وکړي.



FES, MADPO, APPRO ©

**دويمه ستونزه: منظم يا نظيم شوي جرمونه**

د ګډونوالو په اند د جګړې دويم لامل د هېواد له پولو څخه د باندې د انسان، توکو او مخدره موادو په قاچاق او توليد کې د ښکېلو جنايي شبکو د قدرت لمنه ده.

امنيتي ځواکونه په پراخه کچه د عامه نظم په ساتلو او د هغو جنايي شبکو په کنټرول کې پاتې بلل شوي چې تر ډېره هم له وسله والو او هم له دولت سره اړيکه لري. په پايله کې، رسمي عدلي نظام د ګڼو کسانو له انده شديداً کمزوری او د جنايي عناصرو تر کنټرول لاندې ګڼل کېږي.

حل لارې د امنيت پر سکټور، قانون واکمنې او ټولنيز خوځښت باندې له تمرکز سره مل وړانديز شوي دي. په دې اړه عمومي توافق و چې د لويو لارو او سرحدونو اغېزناک کنټرول ته اړتيا ده خو ډېری بحثونه د امنيتي سکټور د سيستماتيک اصلاح پر اړتيا تمرکز درلود ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د قانون پلي کوونکي چارواکي په مناسبه بڼه روزنه ترلاسه کړي، قانون په اغېزناک ډول پلې او هغو ټولنو ته ځواب ويونکي اوسي چې دوی يې د ساتلو دنده لري. پر پوليسو او عدلي-قضايي نظام د باور کمېدل هم د غير قانوني فعاليتونو د پراخېدلو يو له بنسټيزو عواملو ګڼل شوی.

ګډونوالو او پناليستانو له خپلو ګټو څخه د دفاع په لاره کې د ټولنيز خوځښت پر موضوع هم ټينګار وکړ او يادونه وشوه چې د متقابل باور ډېرولو، د امنيتي سکټور او محلي ټولنو د استازو ترمنځ د هڅو شريکولو لپاره بايد لا ډېر څه وشي. مثال، د خوست يوه پناليست وويل:

*که ټولنې له پوليسو سره همکاري وکړي او پوليس هم خپلې دندې په سمه توګه ترسره کړي، موږ به له قاچاق سره په مبارزه کې بريالي شو. له دې سره، موږ وينو چې کله کوم څوک د مجرم له نيولو سره مرسته وکړي، پوليس يې د څو افغانيو په بدل کې بېرته خوشې کوي. دغه کار سبب شوی چې خلک پر پوليسو او دولت بې باوره شي[...] زموږ ټولنې پياوړې او منسجمې دي؛ هغوی په تېره کې له خپلو ګټو دفاع کړې او د ظرفيت لوړولو لپاره يې بايد لا ډېر کار وشي. ١*
*شمېره ښځينه پناليسته، دولتي استازې، خوست.*

ديني رهبران، ټولنيز مخور او د ځوانانو ټولنې د هغو کسانو له ډلې دي چې کېدای شي د دولت او ټولنو د يوه ګډ نوښت له لارې په اغېزناکه بڼه راغونډ شي.



FES, MADPO, APPRO ©

**درېيمه ستونزه: د سرچينو په سر جګړه**

د ځمکو پر سر شخړو ته په ځانګړې توګه هغو ولايتونو کې د جګړې او تاوتريخوالي د اساسي دلايلو په توګه

اشاره شوې چې د لویې پکتیا برخه دي. د ټولنو ترمنځ ځینې جګړې څو لسیزې اوږدې شوې او که چېرې ولیدل شي چې د جګړې یو طرف د بل پر حقونو تېری کوي، د جګړې اور له سره تازه کېږي. د دغو جګړو ناڅاپي ډېرېدل د قومونو ترمنځ سیالۍ او د سلګونه او ځینې وخت زرګونه جنګیالیو راغونډېدل، کېدای شي د تاوتریخوالی د لوړې کچې سبب شي. (TLO, 2013)

د ګډونوالو له انده، د ټولنې په کچه د ځمکې پر سر د شخړو ډېرېدل او په تاوتریخوالی اوښتل له یوې خوا په ګاونډیو ټولنو کې د مخورو کسانو ترمنځ د همکارۍ نه کولو او له بلې خوا د سپین ږیرو او ځوانانو ترمنځ د نسلي واټن رامنځته کېدو له امله دي او یا دا چې د ټولنې ځوان غړي د ځمکو د حدودو ټاکنې، له سرچینو څخه د ګټه اخیستنې او د ځمکو د مالکیت په اړه له دغه شان عرفي هوکړو څخه خبر نه لري.

د ځمکو د مالکیت اړوند موضوع پېچلتیا، د هغو ضوابطو د چوکاټ د ډول (عرفي یا شرعي) په سر د اختلافونو، د دولتي او شخصي ځمکو د حدودو نا څرګندتوب او د ځمکو د اسنادو نه شتوالي له امله لا پسې ډېرېږي.

همدارنګه، دولت هم د جګړې له شدت او په تاوتریخوالي اوښتلو څخه اغېزناک مخنیوي کې ناکام ګڼل کېږي. د یوه پنالیست په خبره:

*خپاره شوي قوانین په محلي کچه نه پلې کېږي. مثلاً، په لویه پکتیا کې د غزنیو ځمکو پر سر شخړو د لسګونو تنو ژوند اخیستی. د دولت هغه یوازینی کار چې ترسره کوي یې دا دی چې د اوربند غوښتنه کوي خو د ستونزې د دایمي حل لپاره حل لاره نه شي وړاندې کولای. په تاوتریخوالي لاس پورې کوونکي نه نیول کېږي او د جګړې د بیا تازه کېدو خطر پر خپل ځای پاتې کېږي[...] برعکس، د طالبانو تر کنټرول لاندې ساحو کې سخت ګیرانه تدابیر تر لاس لاندې نیول شوي دي. هېڅوک نه شي کولای د هغوی قوانین او مقررات تر پښو لاندې کړي. هېڅوک نه شي کولای ونې ووهي. که چېرې محلي حکومت مشروعیت غواړي، باید قانون په جدي توګه پلی کړي - ۲ شمېره نارینه پنالیست، د ځوانانو استازی، پکتیا*

د ولایت د مرکز شاوخوا للمې ځمکې چې په کې د رغونې او جوړونې امکانات شته، د دولتي چارواکو له خوا د ځمکو غصبول او د ځمکو اړوند شخړو په هوارولو کې د عدلي-قضایي سیستم ناکامي، پر دولتي بنسټونو د بې باوره کېدو بل دلیل دی.

د ګروپ د غړیو له لیدلوري، د ځمکو په سر د شخړو هوارول د ځمکې د قبالې ورکولو او قضاوت په برخه کې د دولتي چارواکو او محلي ټولنو ترمنځ پرله پسې همکاریو ته اړتیا لري. ځینو ګډونوالو وړاندیز وکړ چې عرفي قبالې باید په رسمیت وپېژندل او ثبت شي. ځینو نورو د شخړو دحل عرفي مکانیزمونو او رسمي عدلي-قضایي سیستم ترمنځ د اړیکو ټینګېدو غوښتنه وکړه. د ګروپ یوه غړي د ځمکوالی د ترکیبي سیستمونو یو مثال وړاندې کړ:

*قومي شوراګانې کولای شي د سرچینو پر سر د شخړو په هوارولو کې اغېزناک رول ولوبوي. هغوی د همدې ټولنې له غړیو څخه تشکیل شوي. په خوست کې د شخړو هوارولو یو کمیسیون له دولتي چارواکو او د قومونو له استازو څخه جوړ دی او د ځمکې د مالکیت په سر را ولاړو شویو ستونزو هوارو کې ښه اغېزناک ثابت شوی -۲ شمېره نارینه پنالیست ، مدني ټولنه*

له دې سره، د دولت او ولس ترمنځ د اړیکو ښه کولو په لاره کې هڅې باید له فساد او د سرچینو له ناوړه مدیریت سره د مبارزې له لارې، لا پیاوړې او ملاتړ یې وشي.

**څلورمه ستونزه: د وسلو ویش**

په سرحدونو کې د وسلو قاچاق او د وسلو لرلو لوړه کچه، د جګړو او شخړو په بې رحمانه زیاتوالي کې لوی لاس ګڼل کېږي.

یو شمېر ګډونوالو د ولس د امنیت په ساتلو کې د دولت له ناکامۍ وروسته د وسلو پراخ مالکیت او دغه راز د

ځان ساتلو لپاره د ځایي ټولنو مسلح کېدلو ته اشاره کړې.

ګډونوالو یوځل بیا د دولتي بنسټونو (دلته امنیتي ځواکونه)، د عرفي حکومتي عاملانو او مدني ټولنې د استازو ترمنځ د لا ډېرې همکارۍ او اړیکو پر اهمیت ټینګار وکړ.

هغه بله برخه چې پرې تمرکز وشو، د قانوني چوکاټ اغېزناک تطبیق او په عام محضر کې مجرمانو ته سزا ورکول وه. د تاوتریخوالي کوونکو کسانو پراخ خوندیتوب ته د هغه لامل په توګه اشاره وشوه چې د تاوتریخوالي او جنایي پېښو د لا زیاتېدو سبب کېږي.



FES, MADPO, APPRO ©

**پایله**

د سوېل ختیځ زون د غونډې په اړه، څلور سترې پایلې وړاندې کولای شو.

لومړی، داسې ښکاري چې د اقتصادي رغونې موضوع د ولس د اندېښنو په محراق کې ځای لري. د ګډو ګډونوالو لپاره، تلپاتې سوله د خوراکي امنیت، اقتصادي ثبات او مناسبو کاري شرایطو تضمین دی. سرچینو ته په لاسرسي کې نا برابري او د فساد پراخېدلو چې دا هم د نابرابریو زیاتېدو سبب کېږي، د خلکو غوسه را پارولې ده.

دویم، د هغو حکومتي بنسټونو او دغه راز د ولس د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې د هغوی د ظرفیتونو په تړاو د خلکو ترمنځ شدیده بې اعتمادي شتون لري چې په تېرو دوو لسیزو کې رامنځ ته شوې. د دولتي سیستم بې کفایتي، ټیټ ظرفیت، نا مسلکي توب او په فساد کې ډوبتیا ته د هغو عواملو په توګه اشاره شوې چې د دولت ضد احساساتو ته لمنه وهي.

له خلکو څخه د مخامخ ساتنې لپاره د دولت د هڅو پر اړتیا د ګډونوالو ټینګار، ظاهراً یو پاراډاکس او ضد او نقیض خبرې دي خو شاید له هغې شدیدې ناهیلۍ سره تړاو ولري چې د حکومتي چارواکو او بنسټونو په اړه څرګنده شوه. د ټرانسپورټي زیربناوو جوړولو او اوبو د مدیریت لپاره ټولګټې دولتي پروژې او د کرنې په پراختیا کې د دولت ګډون، هغه موضوعات دي چې د اقتصادي رغونې په اړه د بحثونو پرمهال ورته ډېر ځله اشاره وشوه. همدارنګه ګډونوالو او پنالیستانو د قانون په تنفیذ کې د روڼتیا او مؤثریت پر اړتیا ټینګار وکړ او د قانون په پلي کولو کې یې د دولت ناکامي د طالبانو په محاکمو کې د عدالت له جدي، اټکل وړ او ژر تطبیق سره پرتله کړه.

دریېم، ګډونوالو او پنالیستانو په یوه اندازه د دولتي بنسټونو او محلي نا دولتي عرفي جوړښتونو ترمنځ د لا ډېرې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ. په بحثونو او د پالیسیو په پلي کولو کې د محلي استازو، دیني علماوو او د مدني ټولنې د فعالانو ورګډول، هغه ګډه موضوع وه چې د ټولې غونډې په جریان کې پرې بحثونه وشول.

په پای کې دا چې د دولت او د پالیسیو او قوانینو په پلي کولو کې د هغه پر وړتیاوو له شدید شک او نا باورۍ سربېره، ګډونوالو په اوسني قانوني چوکاټ کې پر ساتل شویو ارزښتونو ټینګ باور درلود؛ په ځانګړې توګه د اساسي قانون په اړه، داسې چې یوه ګډونوال د ټولو قوانینو مور و نوماوه.

له همدې امله، د حکومتوالۍ د موضوع په تړاو د دوځې د خبرو اترو پایله، هم د هیلو او هم د اندېښنو سرچینه ده؛ هیلې له دې پلوه وې چې ښایي د جګړو ټغر ورټول کړي او اندېښنې له دې پلوه چې د سولې دغه هوکړه ښایي د اوسنیو حکومتي بنسټونو له منځه تګ سبب شي (که څه هم اوسني حکومتي بنسټونه چندان مؤثر نه دي).

**تصديق**

د پوښتنې انځور د محمد عارف کريمي له خوا اخيستل شوی.

**قانوني يادونه او د مسؤليت نه منل**

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثـر هېـڅ يـوه برخـه لـه APPRO (www.appro.org.af) موسسـې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخـه لـه ليکلـې اجـازې پرتـه، د بيا توليـد او د بيا موندلـو پـه سيسـتم کـې د زېرمـه کولـو وړتيـا نـه لـري او اجازه نـه شـته چې پـه هره بڼـه يـا د هـرې وسـيلې پـه کارولـو سره بـل ځـای تـه ولېـږدول شي.

**سرچينې:**


Ali, O., Asadullah, S. and Bleuer, C. (2019). *One land, Two Rules (8): Delivering public services in insurgency-affected insurgent-controlled Zurmat district.* War and Peace. Afghanistan Analysts Network (AAN). September 4. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/one-land-two-rules-8-delivering-public-services-in-insurgency-affected-insurgent-controlled-zurmat-district/

Alim, Mohammad Haroon. (2019) Taliban Destroys 600 Meters of Ghazni Highway. Khaama Press. November 9. Available at: https://www.khaama.com/taliban-destroys-600-meters-of-asphalt-on-ghazni-highway-987897/

ANI (2021). Taliban take control of major border crossing with Pakistan. ANI. July 14. Available at: https://www.aninews.in/news/world/asia/taliban-take-control-of-major-border-crossing-with-pakistan20210714193400/

Clarke, K. (2011), 2011 Ten Year on (3): The fall of Loya Paktia and why the US preferred warlords. Afghanistan Analysts Network. November 24. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/2001-ten-years-on-3-the-fall-of-loya-paktia-and-why-the-us-preferred-warlords/

Gregg, T. (2009). *Caught in the crossfire: The Pashtun tribes of Southeast Afghanistan.* Policy Brief. Lowy Institute for International Policy. Available at: https://www.files.ethz.ch/isn/108942/LPB_Gregg_crossfire.pdf

Hamid, T. (2020). *Fierce, Widespread Fighting Surges to Control Afghan Highways.* Afghanistan. Tolonews. 7 july. Available at: https://tolonews.com/afghanistan/fierce-widespread-fighting-surges-control-afghan-highways

Human Rights Watch (HRW). (2021). *Afghanistan: Taliban Target Journalists, Women in Media.* April 1. Available at: https://www.hrw.org/news/2021/04/01/afghanistan-taliban-target-journalists-women-media

Human Rights Watch (HRW). (2019). *"They've shot many like this", Abusive Night Raids by CIA-backed Afghan Strike Forces.* Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan1019_1.pdf

International Rescue Committee (IRC). (2021). *Drought Assessment Report.* Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/droughtassessmentircjune21.pdf

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (NSIA). (2021). *Afghanistan Statistical Yearbook 2020.* Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Shah, Ahmad (2014). Smuggling Threatens Legal Economy in Afghanistan. Merchants from Khost province say contaband goods undermine legitimate trade with Pakistan. Institute for War and Peace Reporting (IWPR). March 19. Available at : https://iwpr.net/global-voices/smuggling-threatens-legal-economy-afghan-southeast

Khoshai, R. K. (2019). *Pakistani forces stray into Gomal District of Paktika.* Pajhwok Afghan News. November 8. Available at: https://pajhwok.com/2019/11/08/pakistani-forces-stray-gomal-district-paktika/

Maftoon, S. (2019). *18 months on, Ghazni-Paktika road remains shut.* Pajhwok Afghan News. November 3. Available at: https://pajhwok.com/2019/11/03/18-months-ghazni-paktika-road-remains-shut/

Maqsood, A. (2018). *In remote parts of Logar, 40,000 girls out of school.* Pajhwok Afghan News. August 13. Available at: https://pajhwok.com/2018/08/13/remote-parts-logar-40000-girls-out-school/

Médecins Sans Frontieres (MSF). (2021). *The Continued Struggle to Access Medical Care in Afghanistan.* May 2021. Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/Continued%20Struggle%20to%20Access%20Medical%20Care%20Afghanistan%20report.pdf

Nikzad, K. (2021). *Taliban intensifies attacks on Ghazni city, Kandahar city.* Afghanistan. Tolo News. July 12. Available at: https://tolonews.com/afghanistan-173468

Rahman, F. (2018). *Unheeded Warnings (1): Looking back at the Taliban attack on Ghazni.* War and Peace. Afghanistan Analysts Network (AAN). December 16. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/unheeded-warnings1-looking-back-at-the-taleban-attack-on-ghazni/

Ruttig, T. and Sabawoon, A. M. (2020). *A Threat to Kabul's Southern Gate: A Security Overview of Logar Provinces.* War and Peace. Afghanistan Analysts Network (AAN). July 18. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/a-threat-at-kabuls-southern-gate-a-security-overview-of-logar-province/

Ruttig, T. (2009). *Loya Paktia's insurgency: The Haqqani Network as an autonomous entity.* In Giustozzi, A. (ed.) *Decoding the New Taliban. Insights from the Afghan Field.* Columbia: Hurst. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/2009/07/20090224-HQN-as-autonomous-T-entity.pdf

Swedish Committee for Afghanistan (SCA) (2021). *Armed clashed force school closures in Ghazni.* June 10. Available at: https://reliefweb.int/report/afghanistan/armed-clashes-force-school-closures-ghazni

The Liaison Office (TLO) (2008) *Southeastern Cluster: Paktia, Khost and Paktika, Afghanistan Border-district Exploratory assessment*, Tribal Liaison Office, 2008.

_______________ (2013). Major Land Disputes and Land Titling Systems in Khost Province, Implications for a Collaboration between Traditional Dispute Resolution Mechanisms and ARAZI. Kabul: The Liaison Office.

Tolonews (2018). Border Clashes Break Out Again, This Time in Paktia. Tolonews. April 16. Available at: https://tolonews.com/afghanistan/border-clashes-break-out-again-time-paktia

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA) and the United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR) (2021). Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict. Annual Report 2020. February 2021. Kabul, Afghanistan.

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA) (2013). Ghazni Declared Asian Capital of Islamic Culture, Highlighting Afghanistan's Rich Cultural Heritage. April 13. Avialable at: https://unama.unmissions.org/ghazni-declared-asian-capital-islamic-culture-highlighting-afghanistan's-rich-cultural-heritage

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). *Pitfalls and Promises: Minerals Extraction in Afghanistan.* Afghanistan Human Development Report 2020. Available at: https://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/human_development/NHDR-2020.html

United Nations Environment Programme (UNEP). (2016). *Climate change in Afghanistan. What does it mean for Rural Livelihoods and Food Security?* November 2016. Available at: https://postconflict.unep.ch/publications/Afghanistan/Afg_CC_RuralLivelihoodsFoodSecurity_Nov2016.pdf

United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR) (2019). Socio-Economic Assessment of Refugees in Afghanistan's KHost and Paktika Province 2017. December 5. Available at: https://microdata.unhcr.org/index.php/catalog/187

United Nations Organization for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2021). *Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (7-13 June 2021).* June 13. Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_humanitarian_weekly_15_june_2021.pdf

United Nations Secretary General (UNSG) (2020). The situation in Afghanistan and its implications for international peace and security. UN Doc. A/74/897-S/2020/549. June 17. Available at: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/sg_report_on_afghanistan_june_2020.pdf

United Nations Secretary General (UNSG) (2020). The situation in Afghanistan and its implications for international peace and security. UN Doc. A/75/634-S/2020/1182. December 9. Available at: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N20/335/76/PDF/N2033576.pdf?OpenElement

United Nations Security Council (UNSC). (2021). *Swift Withdrawal of International Troops Sparks Widespread Fear in Afghanistan, Experts Tell Security Council, Sounding Alarm Over Taliban Military Gains.* UN Doc. SC/14557. June 22. Available at: https://reliefweb.int/report/afghanistan/swift-withdrawal-international-troops-sparks-widespread-fear-afghanistan-experts

United Nations Security Council (UNSC). (2019). *Letter dated June 10 2019 from the Chair of the Security Council Committee established pursuant to resolution 1988 (2011) addressed to the President of the Security Council.* UN Doc. S/2019/481. June 13. Available at: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N19/126/75/PDF/N1912675.pdf?OpenElement